# ستاسو معلومات
# ستاسو حق

CAPITAL AREA FOOD BANK

دغه انبار یوه الیکترونیکي سیستم ته اړول کېږي ترڅو متقاضیان ثبت کړي. معنا یې دا ده چې مخکې پر کاغذ ټول راټول شوي معلومات په کمپیوټري سسیتم کې اوس ذخیره شي. دا د دغې انبار، د خوراکي توکو د بانک او ترټولو مهمه ستاسو لپاره یو لوی بدلون دی! موږ هڅه کړې ده چې ستاسو پوښتنو ته لاندې ځوابونه ورکړو. که غواړئ چې لا ډېر پوه شئ، په مهربانۍ سره په خپل ځایي انبار کې له کارکوونکو سره خبرې وکړئ.

## نو نوی سیستم څنګه یو سیستم دی؟

دغه سیستم د **Service Insights** په نامه یادېږي. دا یو ډیجیټلي سیستم دی چې د انبارونو لپاره دا سانه کوي چې پر خپله ټولنه پوه شي او خپل خدمتونو ته وده ورکړي.

دغه انبار ته یوه اندازه خواړه د فدرالي حکومت لخوا د TEFAP په نامه سیستم له لارې راځي. حکومت له هغو خلکو غواړي چې ځانګړي کاغذونه بشپړ کړي چې د TEFAP خواړه ترلاسه کوي. یاده پروسه په Service Insights سره په بریښنايي بڼه ترسره کېږي. د TEFAP لپاره ستاسو مستحق والي په تړاو معلومات به د کاغذ پر ځای په بریښنايي سیستم کې په خوندي توګه ذخیره شي

انبار به مو وروسته تر دې یو بارکوډ کارت درکړي چې ستاسو معلومات ورته برابر کړئ. دغه انبار (او بل هر هغه انبار چې Service Insights کاروي) دغه کارت سکین کولی شي څو په چټکۍ سره په راتلونکي کې ستاسو لیدنې ثبت کړي. تاسو یوازې یو کارت ته اړتیا لرئ او دا مهمه نه ده چې څو داني انبارونو ته ورځئ؛ Service Insightsهڅګه د دې محدودولو لپاره نه کارول کېږي چې څو داني انبارونه لیدلی شئ.

## باید کوم معلومات برابر کړم؟

د TEFAP خوړو ترلاسه کولو لپاره موږ ستاسو او ستاسو د کورنۍ په تړاو ځینو معلوماتو ته اړتیا لرو.

- ستاسو نوم
- د کورنۍ د غړیو شمېر
- دا چې ایا تاسو مشخص عامه امتیازات لکه SNAP یا TANF ترلاسه کوئ کنه
- ستاسو پته
- ستاسو د کورني عاید

دغه راز به یو څه نور معلومات هم وغواړو لکه ستاسو غذايي غوره توبونه، خو اختیاري دي او په TEFAP کې به ستاسو پر ګډون اغېز ونه کړي.

## ولې بدلون؟

دغه انبار له Capital Area Food Bank سره کار کوي څو د ترلاسه کولو پروسه اسانه کړي. ستاسو د ځېل او کورنۍ په هکله د څو پوښتنو په ځوابولو سره به تاسو له دغه انبار سره مرسته وکړئ چې تاسو پر خدمت کولو ډېر وخت او پر کاغذي کار بیا کم وخت ولګوي. دغه انبار ښايي وکولی شي چې د هغو خلکو شمېر وکاروي چې تاسو ته یې خدمت کړی دی څو له دوی سره مرسته وکړي چې مالي مرسته راټوله کړي او ټولنې ته د خپل کار په هکله ووايي.

## آیا زه باید دا کار هر وخت وکړم؟

نه. له Service Insights څخه استفاده کول تاسو ته اجازه درکوي چې خپل معلومات په الیکترونیکي ډول جمع کړئ او په راتلونکي کې په چټکۍ سره وکولی شئ مراجعه وکړئ.

موږ به یوازې له تاسو غوښتنه کوو چې خپل معلومات وخت نا وخت اپډیټ کړئ. له تاسو به وغوښتل شي چې د DC او Maryland اوسېدونکو لپاره د TEFAP د مستحق والي په پار هر کال تایید وکړئ او د Virginai اوسېدونکي یې باید په هر دوو کلونو کې وکړي.

# ستاسو معلومات
# ستاسو حق

CAPITAL AREA FOOD BANK

## د معلوماتو په برخه کې د CAFB ژمنه

**موږ به ستاسو معلوماتو سره په درنښت او کرامت سره چلند وکړو.**

ټول ځوابونه محرم دي. که نه غواړئ چې خپل معلومات برابر کړئ یا د هر ډول پوښتنې په ځوابولو سره ناراحته کېږئ، موږ به تاسو ته خدمتونه وړاندې کړو. موږ به مو پر ځوابونو باور وکړو او په بېل ډول به درسره چلند ونه کړو، که نه غواړئ چې ګډون وکړئ. که نه غواړئ په Service Insights کې ګډون وکړئ، کولی شي په کاغذي بڼه خپل د مستحق والي معلومات چمتو کړئ.

**موږ به ستاسو معلومات خوندي او محفوظ وساتو.**

ستاسو معلومات له د صنعت لخوا تر رهبرۍ لاندې امنیتي تدابیرو په کارولو سره ذخیره شي. هېڅکله به مو شخصي او فردي معلومات له دغه شریک لرونکي شبکې بهر له هېچا سره شریک نه کړو، په دې استثنا سره چې له هغې ادارې سره سمون ولرو چې ستاسو په ایالت کې پر TEFAP نظارت کوي. Service Insights د معلوماتو د ساتنې یا امنیت لوړ معیارونه لري، او کارنان یوازې کولی شي هغه معلومات ووینې چې هغوی ورته اړتیا لري. له دغې لارې د معلوماتو ثبتول تر هغې چې په پاڼه کې یې ثبت کړئ، څو ځله خوندي او محفوظ دي. موږ به **هېڅکله** ستاسو معلوما د قانون پلي کولو ادارې او کډوالۍ خدمتونو په څېر ادارو سره شریک نه کړو.

**موږ به له دغو معلوماتو څخه یوازې تاسو ته د غوره خدماتو په چمتو کولو کې استفاده وکړو.**

تاسو موږ ته د ځان په اړه د اساسي معلوماتو په چمتو کولو له موږ سره مرسته کوئ چې ټولنې ته خپل خدمتونه د هغوی د اړتیاو مطابق په سمه توګه وړاندې کړو. موږ له دغو معلوماتو څخه ستاسو د شرخصي فعالیتونو په مدیریت یا د خدماتو په محدودلو کې مرسته و ن کړو. د خوراکي توکو بانک به مو معلومات هېڅکله د بازار موندنې یا سوداګریزو موخو لپاره ونه کاروي. هر هغه شخص به چې ستاسو معلوماتو ته لاسرسی لري دغه کار یوازې د وړاندې شویو خدماتو د ثبت یا ستاسو د پروفایل د اپډېټ کولو په موخه دا کار وکړي. ستاسو انبار او د خوړو بانک په ټرېنډونو پسې کتلو او د ټولنې په هکله لا زیاتې زده کړې لپاره راپورونه کارولی شي. دغه راپورنه به هېڅکله شخصي معرفي کوونکي معلومات ونه ښیي.

**پوښتنې یا اندېښنې؟**
دغه www.capitalareafoodbank.org/insights ته مراجعه وکړئ یا ServiceInsights@capitalareafoodbank.org ته بریښنالیک واستوئ.